ژباړه : سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۰/۹/۲۹

# د پاکستان ګواښمن سقوط

## فرانکفورته الګمینه – لیکوال: یوخین بوخ شتینر

پاکستان ډیرې ژورې کندې ته ورنږدې کیږي. د دغې هیواد داتومي ځواک کارې ورتوب او ګواښ نړیوالې سولې ته ځښت ډیرشوی دی. دې ته په کتوسره د نړیوالې ټولنې هڅې شتون ډیرې لږ لیدل کیږي.

له ډیره مودې راهیسې د لویدیځوهیوادو د پلازمېنو په ښاروانو کې ویل کیږي، رېښتینې ګواښ له افغانستان څخه نه بلکې د پاکستان څخه نړیواله سوله ګواښوي.

دا ددغې هیواد لویوالي سره، د سیمیزو ځواکونو ترمنځه ستراتیجیک موقعیت او په ورستي پړوکې د دغې هیواد له اتومي وسلو سره تړو لرې. پاکستان سربېره پردې د ډیرو سیالو هیوادو دلیوالتیاوو او د سیالیو پراخ ډګر ګرځیدلې دی.

د ګواښ دواړه اصلي سرچینې :

۱ . اسلامي بنسټپالیزم او ترهګرې خپرول

۲. د نوکلیبار یا اتومي ډلیزو وژنو وسلو ایکسپورټ او خپرول دي.

د پاکستان د وسلو ځواک کچه ته په کتو سره په هماغه اندازه نړیوالې سولې ته ګواښ رامنځته کړي دی. د نړیوالې ټولنې هڅې خورا لږ دي. داسې مالومیږي چې د افغانستان څخه له مخ توری پرته، په پرده او عزت کې د خپلو ځواکونو ایستل او د ایران اتومي پروګرام دا مهال ځښته ډیره ډیپلوماټیکې انرژۍ له اصلي موخې څخه ځان ته راجزب کړي وي. ترهغه چې د نړۍ دویم ستر اسلامي ملت با ثباته کړي او یا د ګډودیو کندې ته د لویدلو مخه ونیسي.

لاملونه یې اریانتیا،بې وستوب او یوې خوا ته تللي متمرکز فکري ډول دي. په ورستیو لسیزو کې ولسواک ټاکل شوي سیاسي چاروکي او پوځي دیکتاتوران په واک کې سره بدلیدل. له دغو بدلونو سره دغه هیواد په سیاسي واده کې پاتې راغلي او مورال یې ورستي کچې ته رسیدلې دی.

د جنرال پرویزمشرف څخه ملکي زرداري ته د واک انتقال د واقعیتونو فاینل یا پایلوبه وه، دا ټول په ناسمه توګه وخیژل شول. له دوو کالو څخه را ورسته اوس د پاکستان هرې خوا ته وګورۍ هېڅ ځوک نه په سترګو کیږي او نشته چې هغه باندې د یو ښه راتلونکې هیله او تمه وتړلې شي.

د پاکستان دوه مخي سیاست او مورال دا ګواښ یې رامنځته کړي چې داسیاست بدلون نه کوونکی دی.

دلته ډیرې هڅې وشوې، چې له هغو استازیو کسانو سره یوې معاملې ته سره ورسیږي چې دا هیواد یې په لاس کې لرولو، دا هڅې ټولې په خواشینې بدلې شوې. حکومت چې ځان د ترهګرې په وړاندې مبارزه کې د نړیوالې ټولنې متحد بولې، دا لار په ډیره ګرانه بیه تماميږي، هغه داچې حکومت ته د یو ګوند له خوا لاربښوونه کیږي، دا ګوند د بنسټپالو لپاره د تجموع مرکز ګرځیدلې دی. له یوې خوا پوځ په لویدیځ کې لا تر اوسه د سیکولاریزم کلک ساتندوی پیژندل کیږي. له بلې خوا پوځ په پټه په خپلو ادارو کې یوه مخ پرووده سمپاتي یا د لیوالتیا لاره د اسلامي کودتا لپاره راجستر او خلاصه کړې ده.

د پاکستان د دوه مخي سیاست او مورال په اړه د برتانیا لومړي وزیر کمروون په دعوا کې وویل، دغې حالت یو خواشینوونکې او پرله پسې پېښیدونکې ګواښ یې رامنځته کړي دی.

د تعجب خبره به نه وي چې دا فکر وکړو، که دا د بانکي بې وستوب او تنګ لاسي هیواد خپل برخلیک ته ور پرېښودل شي او بایکاټ شي، چې ورسره به په ټوله سیمه کې کسرونه رامنځته شي. دا فکر اوس ورو ورو برلاسه کیږي.

تر اوسه یواځې متحده ایالات په دې اړه فکر کوي، که له دغې هیواد څخه مخ واړول شي، دا به د دوی یوه بې مسوولیتي وي. واشنګټن په ناهیلي او مایوسي سره د ډیپلوماسي فشارنو له لارې، د طالبانو پټنځایونو باندې د بې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

پیلوټه الوتکو د بریدنو له لارې او د ډیرو بې کچو مالي مرستو له لارې، هڅه کوي چې په پاکستان کې د نور ناوړو حالاتو د رامنځته کیدو مخه ونیسي. د بریالیتوب خبره څوک کولې نه شي.

اسلامي بغاوت په خپریدو دی. یواځې د همدې میاشتې له پیل څخه د سلو څخه ډیر انسانان په ځانمرګي بریدونوکې خپل ژوند له لاسه ورکړي. سیلابونو کمزوي اقتصاد نوره هم کالونه کالونه شاته وغورځوه.

په ولس کې ناهیلي نورهم په جګیدو ده. اوس یو وار بیا دسیاسي واک دبدلیدو اوازې خپرې شوي دي، ځیني بیا ویره لري چې انارشي یا ګډوډ یو خوا ته ګواښ ډیر شوي دی.

ددغې هیواد د ورانیو، ویجاړیدلو یا لمنځه تللو کچه خپلې ورستي پولې ته رسیدلې ده. د دې ورستیو تازه بیړنیو مرستو او هڅو په پیل کې دغه پوهه ترلاس شوه چې د پاکستان د قضیه په اړه د لودیدځوالو او امریکایانو ترمنځه ځواک او مرستو ورستي پولې جوتي شوې.

د پاکستان د خطرناکه سقوط لاملونه نه یواځې د دوی د بدې یا رشوت اخیستونکو د لوړوزده کړوجګپوړې سیاسي چاروکي او بنسټپال دي. بلکې له بهر څخه بهرنې انترس او فعالیتونه هم دي چې دوی هم هڅه کوي د بخار په دیګ کې فشار نوره ورزیات کړي.

اوس په حقه سره زموږ له خپلواکې څخه په پاکستان کې دفاع کیږي.

چین هڅه کوي خپله یوه مرکزي ستره جیوستراتجیکي پروژه د پاکستان په خاوره کې په پښو ودروي. دوی غواړي د ځمکې له لارې ګوادر بندر ته او له هغه ځایه د عربو خلیج ته لاره ومومي. دغې پروژه په اغیزمنو سیمو او هیوادو کې ویره او ګواښ را ویښ کړي دی. هغه هیواد چې په پاکستان باندې ډیره اغیزې لری سعودي عربستان دی. دغه هیواد اسلامیزم په ټوله نړۍ کې خپر وي. په پاکستان کې د انقلابي وهابي زده کړو لپاره مالي مرستې کوي. دوی تل دودیزه لیبراله صوفیزم په شا تمبولې. دا په نامه سنې بنسټپالیزم نه یواځې د هیواد په ننه کې دشعیه ګانو پر وړاندې دی. د شعیه ګانو سره بیا د ایران له خوا مرسته کیږي. هندوستان له پخوا څخه پاکستانیان یې په فکرې ولکه یا محاصره کې نیولې دي. هند په کشمیر کې خپل پوځې ځواک او مانوروونه ښیې، د پولې په اخوا کې داوبو نوی بند جوړولو ته هند پر خپلو اوبو باندې د برید په سترګه ګوري.

د پاکستان مجهول جوړښت او بحران یو سیمیز حل ته ارتیا لري. په اسلام اباد کې د دسیسو تیوري ښایې بل ډول وي. تر او سه ډیر لږ هیوادونه د پاکستان لمنځه تللو ته لیواله دي.

اما دوی کولې شي په ګډه سره د اسلام اباد په وړاندې یو ګډ دریځ غوره کړي، دا به یواځیني لاره وي تر څو له دغې ورکې لار څخه را ووځي او دغه حالات لږ څه را تت کړي.

د همدغو ستومانه کوونکو زور اچوونکو هڅو په درشل کې د افغانستان په اړه د لندن په کنفرانس کې خبرې اترې وشوې، چې اروپا ته په پاکستان کې باید د امریکې په څیر یوه رغښده ونډه ورکړل شي. ځکه له دوی څخه پاکستانیان نفرت لري او پاکستان ته بیا د ګاوندیانو له خوا دشک په سترګه کتل کیږي. اروپا نسبتآ بې پلورول لوبولې شي. که څه هم اروپا د ګواښولو کوم خاص پوځې ځواک نه لري اومستقیمآ کومه خاصه اغیزه نه شي شیندلې. د خپلو خاصو سیاسي تګلار له لارې کولې شي په سیمه کې منځګړ توب وکړي.

که داخبره سمه وي چې موږ د خپلې خپلواکې اوخپل امنیت څخه په افغانستان کې دفاع کوو، په پاکستان کې دا په حقه سره هم دفاع کیدونکې ده.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولـئ